


# ستاسو د کوچني سوداګرۍ تمویل

2022-2023

**New York Immigration Coalition**
nyic.org

# فهرست

## I. پیژندنه


ځرنګه ددی لارښود څخه استفاده وکړی 1


## II. د سوداګرۍ کریډیټ


د سوداګرۍ په کریډیټ یا اعتبار پوهیدل 2

څرنګه د سوداګرۍ کریډیټ رامینځته کولای شو 3


## III. تمویل/مالی منابعو ته د لاسرسی دلولونه


ځانی تمویل 4

*د ملګرو او کورنۍ څخه مالي ملاتړ ترلاسه کول* 5

*په جمعی توګه مالی وجوه راټولول* 6

*د کراوډ فنډینګ پلټفارمونه* 7

بلاعوض مالی مرستې یا ګرنټ 8

پورونه 9

*د پور غوښتنی مراحل* 10

*د کوچني سوداګرۍ پورغوښتنلیک عمومي چک لیستځچک لیست* 11


## IV. منابع


د نیویارک ایالت ټولنیز پراختیایی مالي بنسټونه 12

## څرنګه ددې لارښود نه استفاده وکړی؟

د کوچني سوداګرۍ پیل کولو یا وده ورکولو کلیدي اړخ دا دي چې د سوداګرۍ اړتیاوو پوره کولو کې د مرستې لپاره د مالی منابعو او تمویل کوم امکانات شتون لري. کوچني کاروبارونه چې مالکین یې مهاجرین دی د نیویارک ایالت د ځان ګمارنی تجارتونو ((Self-employed 33.8 سلنه احصایه جوړوي. زموږ هدف دا دی چې دا ټولنه د اړوند معلوماتو او هغه سرچینې چې د مهاجرینو کوچني تجارتونو او د سوداګرۍ مالکینو سره د مرستې لپاره وقف شوي دي وصل کړو.

دا لارښود به د مهاجرینو کوچني سوداګرۍ مالکینو لپاره یوه وسیله وي چې د سوداګرۍ کریډیټ رامنځ ته کولو، مالی امکاناتو او د پورغوښتنلیک عمومی مسایلو ته د کتنی لپاره د پیژندنې په توګه وکاروي. د مالی منابعو امکانات او اختیارونه چې تاسو یې غوره کوئ ستاسو د سوداګرۍ جوړښت او مالي راتلونکي باندې اغیزه لري. نو دا مهمه ده چې په پام کې ونیول شی چې څرنګه تمویل کولی شي تاسو سره د سوداګرۍ اهدافو ته رسیدو کې مرسته وکړی او ستاسو مالي اړتیاوې پوره کړي.

دا لارښود د تجارتی جواز یا پرمټ اړتیاوې او معیارات تر پوښښ لاندی نلري. دا لارښود باید په خاصه توګه د سوداګرۍ تمویل مفکورو ته د عمومي کتنې په حیث وکارول شي. مهرباني وکړئ د اضافي سرچینو لپاره زموږ د مهاجرینو کوچني سوداګرۍ لارښود په لانی لینک کی ملاحظه کړئ. https://www.nyic.org/immigrant-small-business-guide/

## د سوداګرۍ په کریډیټ یا اعتبار پوهیدل

د سوداګرۍ د تمویل په اړه د پریکړه کولو دمخه، تاسوغواړئ د سوداګرۍ کریډیټ یا اعتبارڅ رامنځ ته کړئ. **د سوداګرۍ کریډیټ** د شخصي کریډیټ په څیر پور ورکوونکي ته اجازه ورکوي ترڅڅ و اطمینان تر لاسه کړی چې آیا تاسو ته پور ورکول به خوندي وي؟ دا موضوع د پور ورکوونکوڅ سره مرسته کوي چې د اعتبار وړتوب بررسی کړي، او یا دا چی تر کوم حده پورې ستاسو تجارتڅ او کاروبار د مالي ملاتړ ترلاسه کولو لپاره مناسب دی. پور ورکوونکي ستاسو د سوداګرۍماليڅ تاریخچه او د پورونو تادیه کولو وړتیا په کتلو سره ستاسو په مالی حالت پوهیږي .

د سوداګرۍ کریډیټ باید د سوداګرۍ په نوم پرانستل شي. دا تاسو ته ډاډ درکوي چې ستاسوڅ سوداګرۍ او شخصي کریډیټ یو بل نه جلا دي. د سوداګرۍ او شخصي کریډیټ جلا کول ځکهڅ مهم دی چې:

- جلا کریډیټونه ستاسو شخصي کریډیټ د سوداګرۍ د هر ډول منفي اغیزو څخه خوندي ساتي.
- ستاسو سوداګرۍ کولی شي د کریډیټ یا اعتبار را مینځته کولو ته پیل وکړي او د امکاناتو په ښه کولو سره د پورونو او نور تمویلی سرچینی په راتلونکی کی خوندي کړی.
- تاسو کولای شی د مالیاتو لپاره د سوداګرۍ لګښتونه په ښه توګه وپیژنئ.

## د کریډټ یا اعتبار تاریخچه

د کریډیټ تاریخچه د تمویل فرصتونو او بیمې نرخونو باندې اغیزه کوي او د احتمالي سوداګریز شریکانو، عرضه کونکوو او پلورونکو سره مرسته کوي تر څو پریکړه وکړي چې ایا دوی ستاسو د سوداګرۍ سره کار کولو ته لیواله دي او که نه. د کریډیټ تاریخچه شریکانو او پور ورکونکو ته اجازه ورکوي پوه شي چې آیا ستاسو سوداګرۍ وده کولی شي او ګټور به وي؟

پور ورکوونکي د کریډیټ تاریخچه ملاحظه کوی ترڅو معلومه کړي چې ایا د پورونو لپاره سوداګرۍ منظور کړي او که نه. شخصي او سوداګریز کریډیټ دواړه په پام کې نیول کیږي تر څو د پور لپاره وړتیا وټاکل شي.

کله چې د کریډیټ یا اعتباراتو راپور ورکولو اداري لکه Equifax، Experian، او Dun & Bradstreet ستاسو کریډیټ ارزوي، ډیری وختونه دوی لاندې **موضوعات** په نظر کی نیسي:

| | | |
|---|---|---|
| کلونه په سوداګرۍ کې (تجارتی تجربه) | په تیرو نهو میاشتو کې قرضو ته وړاندی شوی درخواستونه | په تیرو شپږو میاشتو کې پرانستل شوي قرضي |
| د ناوخته پرداختونو شمیر | سکتور او سوداګرۍ اندازه | په تیرو 12 میاشتو کی د تادیاتو/ پرداختونو وضعیت |

| څرنګه د سوداګرۍ کریډیټ رامینځته کولای شو؟ | |
| --- | --- |
| **د سوداګرۍ جوړښت غوره کړئ** | • ټول سوداګریز جوړښتونه/ساختارونه ستاسو سوداګریز کریډېټ د شخصي کریډیټ څخه جلا کوي مګر دا چی تاسو د یو واحد ملکیت سوداګرۍ (Sole Proprietorship) مالک ووسۍ.<br>• تاسو کولی شئ د سوداګرۍ جوړښتونو په اړه نور معلومات په لاندی لینک کی زده کړئ: https://www.nyic.org/immigrant-small-business-guide/ |
| **د کارمند ګمارنی د پیژندنې شمیره او یا (EIN) ترلاسه کړئ** | • EIN د فدرالي ماليې پيژندنې نمبر په نوم هم پيژندل کيږي. دا شمیره د سوداګریزې اداري پيژندلو لپاره کارول کيږي. ستاسو سوداګرۍ EIN ته اړتیا لري تر سو وکولی شئ مالیه ثبت کړئ، د سوداګرۍ په نوم بانکی حساب خلاص کړئ او د سوداګریزی قرضی، جوازونو او پرمت لپاره غوښتنه ورکړئ.<br>• تاسو کولای شئ د آی آر اس لاندی لینک په کارولو سره د EIN لپاره غوښتنه ورکړئ: https://www.irs.gov/ein |
| **سوداګریز بانکی حساب خلاص کړئ** | سوداګریز بانکي حساب خلاصول ستاسو د شخصي او سوداګرۍ لګښتونو جلا کولو لپاره مهم دي. بانکونه کولی شي د کریډیټ او یا قرضی غوښتنلیکونو لپاره د ریفرنس په توګه هم کار وکړي. |
| **د پلورونکو / عرضه کونکو سره کریډیټ او یا اعتبار رامینځته کړئ** | د پلورونکو او عرضه کونکو څخه د توکو، د توکو د اجزاوو، یا نورو موادو پیرودل ستاسو د کریډیټ په جوړولو کې مرسته کوي. |


## ځانی تمویل

**ځانی تمویل** یا خودکفایی پدی معنی دی چې تاسو د شخصی سرچینو نه خپل سوداګرۍ تمویل کړئ. دا د نویو سوداګریزو مالکینو لپاره معمول نه دی چې نغدي سرچینې ولري او خپل کاروبار په بشپړه توګه تمویل کړي، نو دوی باید نورې شتمنۍ لکه سهام یا پانګونی، شخصي کریډیټ کارتونه، یا پورونه په پام کې ونیسي.

ځانی تمویل د سوداګرۍ مالکینو ته اجازه ورکوي چې آزادی پریکړې وکړي او د پلوراو پانګوونې څخه سل سلنه ګټه راټول کړي. دا مهمه ده چې په یاد ولرئ چې د ځانی تمویل سره، د سوداګرۍ مالک باید د سوداګرۍ سره تړلي ټول خطرونه او مسؤلیتونه په غاړه واخلي.

د ځانی تمویلپه صورت کی، تاسو غواړئ ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو سوداګرۍ ژر تر ژره ګټه کوی او د دې وړتیا ولرئ چې پانګول شوې پیسې بیرته راټول کړی.

ځانی تمویل کی تاسو د دې پرځای چې پانګوالو یا بانکونو ته مخه کړي، ډیری وختونه د خپلې کورنۍ او ملګرو څخه د ملاتړ یا کراوډ فنډ غوښتنه کوی.



## د ملګرو او کورنۍ څخه مالي ملاتړ ترلاسه کول

ملګري او کورنۍ اکثرا د کوچني سوداګرۍ مالکینو لپاره د مالی ملاتړ لومړنۍ سرچینې ګڼل کیږی ځکه چې دوی تاسو سره شخصي اړیکې لری او ستاسو په اهدافو او وړتیاو باور لري.

د هغو خنډونو له امله چې ځینې سوداګرۍ د پور د غوښتنی په پروسه کی او یا پانګه اچوونکي ته لاس رسی پیدا کولو کی ورسره مخ دي، د ملګرو او کورنۍ څخه مالي ملاتړ مهمه سرچینه ګڼل کیګی. دوی کولی شي ستاسو سوداګرۍ ته د ډالیو، پورونو، یا پانګې اچونې له لارې مالي ملاتړ وکړي. دوی کولی شي مالی مرسته پرته له کوم ضمیمه یا د پور بیرته ورکولو ډیرانعطاف منونکي مهالویش/قسطونو وړاندیز درکړی.

د سوداګری د خطرونو او مسؤلیتونو په مورد کی صادق ووسئ او د پور اخیستلو پرمهال روښانه شرایط رامینځته کړئ. د ملګرو او کورنۍ څخه د مالی ملاتړغوښتنی په صورت کی لاندی مهم ګامونه په پام کې ونیسئ:

| | |
|---|---|
| **مشخص ووسئ** | • د یوې ځانګړې تجارتی هدف لپاره د مشخصی اندازه پیسی غوښتنه وکړئ. |
| **شفاف ووسئ** | • ستاسو پانګونه څه ده؟<br>• څه تعهدات لری؟<br>• څه خطرات موجود دي؟ |
| **لیکلي تړون چې د پور شرایط په ګوته کوي ولرئ** | • د پور اندازه او د سود/مفاد نرخ<br>• د پور/قرضی هدف<br>• د قرضی د بیرته ورکولو شرایط – یو ځل او یا قسطونه؛ اندازه د هر قسط<br>• د قرضی د بیرته تادیه کولو مهال ویش او دا چی کله پیل شي، او بیرته ورکولو وروستۍ نیټه<br>• د قرضی د نه ورکړې پایلې |

## په جمعی توګه مالی وجوه راټولول

کله چې تاسو د ټولنې څخه د سوداګریزو پروژو او لګښتونو لپاره فنډ راټول کړئ، د کراوډ فنډ ینګ په نوم یادیږی. دا خدمات ډیری وختونه د آنلاین پلیټ فارمونو له لارې ترسره کیږي.

تا سو کولای شی د خپل کوچني سوداګرۍ د تمویل لپاره د کراوډ فنډ ینګ لاندی دوه اصلي ډولونو څخه استفاده وکړی:

- د مرستی یا ډونیشن په توګه مالی امکانات لاسته راوړل: د سوداګرۍ لپاره د اشخاصو څخه د پیسو راټولول طریقه پرته له دې چې په بدل کې هیڅ شی دلاسه ورکړي. دا د کوچنیو سوداګریو لپاره مناسب دی، ټیټ خطر، او لوړ مفاد لری.
- د انعام د ورکړی پر بنسټ تمویل: ونډه ورکوونکی د مالی مرستی په بدل کی تاسو نه ټوکن، محصولات او یا خدمات ترلاسه کوي. د مثال په توګه، که تاسو د خپل بیکري دکان د نوي تنور لپاره پورته اړتیا لرئ، تاسو کولی شئ ونډه او یا پور ورکوونکی ته د پور په بدل کی د وړیا کپ کیک د تخفیف ټکټونه ورکړئ.

## د کراوډ فنډ ینګ ګټې او زیانونه

د کراوډ فنډ ینګ پلټفارمونه ډیری ګټې لکه د برانډ پوهاوی، د مشتریانو رامینځته کولو کې مرسته کول، او د مالي خطر کمولو خدمات وړاندې کوی. تاسو کولی شئ د ورته کراوډ فنډ ینګ کمپاین شرکتونه په مورد کی تحقیق وکړی ترڅو وګورئ چې دوی کوم امتیازات وړاندی کوي او آیا دوی کامیاب وو او کنه.

د یادونی وړ ده چی د کراوډ فنډ ینګ بریالیتوب ستاسو وړتیا پورې اړه لري چی څومره کولای شی باالقوه تمویل کونکو ته ځان ورسوی.

پلټفارمونه لکه Kickstarter، Indiegogo، او GoFundMe د کراوډ فنډینګ لپاره عالي وسیلې دي. تاسو کولی شئ د محصولاتو او یا خدماتو په اړه معلومات پوسټ کړئ، د تمویل مقدار او وخت لپاره هدف وټاکئ. که چیری تاسو خپل مشخص شوی هدف لاس ته رانوړی، ځینې پلټفارمونه را ټول شوی پیسی تاسو ته نه درکوی. همدارنګه د کریدت او دیبت کارت ټرانزکشنونو نه فیس هم اخلی.



# د کراوډ فنډینګ پلټفارمونه

| پلتفارم | ګټې | زیانونه |
| --- | --- | --- |
| KickStarter [www.kickstarter.com](www.kickstarter.com) | • د جایزې پراساس پلټفارمونه تاسو ته اجازه درکوي تر څو مالي ملاتړ کونکو ته د هڅونې لپاره سوداګریز تخفیف او جایزه ورکړئ. • د کراوډ فنډینګ مشهور پلټفارمونه دي. | • په هغه صورت کې تاسو کولی شئ فنډ ته لاسرسی ومومئ چې خپل هدف ته ورسیږئ. • ۵ سلنه فیس لري. • د ترانزکشنونو فیس د ۳-۵ سلنه پورې دي. |
| GoFundMe [www.gofundme.com](www.gofundme.com) | • د خدماتو فیس صفر سلنه دی. • را ټول شوی پیسی/فنډ ته لاسی رسی حتی که ټاکل شوی هدف ته و نه رسیګی. • ۲۴ ساعته تخصصی خدماتو ته لاس رسی. | • د کریډت او دیبت کارت معاملاتو باندی د خدماتو فیس اضافه کوی. |
| Indiegogo [www.indiegogo.com](www.indiegogo.com) | • ثابت هدف ټاکل، انعطاف پذیر هدف (هدف ته د رسیدو او نه رسیدو په حالت کی راټول شوی پیسی ته لاس رسی لری) • د غوښتنی په صورت کی، تاسو ته اجازه درکوي چې د تمویل راټولولو کمپاین پای ته رسیدو وروستههم د پیسو راټولولو ته ادامه ورکړئ. | • ددی پلیټفارم د خدماتو فیس ۵ سلنه ده. • هغه معاملات چې د دریمو مالی موسساتو (لکه بانکونه) لخوا ترسره کیګی، د خدماتو فیس اضافه کیږی. |

## بلاعوض مالی مرستې یا ګرنت

ګرنت یا مالی مرستې د تمویل یوه بڼه ده چې د یو ځانګړي هدف لپاره سوداګرۍ ته ورکول کیږي. دا مرستې د عامه ادارو لکه دولتي ادارو، بانکونو/کریډیټ یونینونو، یا غیر انتفاعي موسساتو لخوا ورکول کیږی.

کله چې پور واخلئ، تاسو باید پور ورکوونکي ته د پور بیرته ورکولو وړتیا وښایاست. خو هغه موسسات چې مرستې یا ګرنت ورکوي غواړي ستاسو سوداګرۍ د هغه موسسی ماموریت یا ځانګړي نوښت سره سمون ولري. همدارنګه، د پورونو برعکس، مرستې بیرته تادیې ته اړتیا نلري او معمولا د سوداګرۍ پر پریکړو اغیزه نه کوي.

د مرستو بله ګټه دا ده چې دوی معمولا د کریډیټ یا اعتبار معیار ته د پورونو په شان اړتیا نلري. خو اکثرا بلاعوض مرستې ته د لاس رسی وړتیا سخت محدودیتونه لري چې پوره کول یې ستونزمن وي، همدارنګه مالیاتی اغیزې، او دا چې څنګه دا مرستې کارول کیږي ستونزمن شرایط دي. ډیری مرستې د دې پراساس ورکول کیږي چې سوداګرۍ د تمویل کونکي ماموریت یا نوښت سره څومره ښه سمون لري. د ګرنت د اجراء پروسه خورا رقابتی ده او د مرستې غوښتنلیکونه د ټیټ بریالیتوب سره مخامخ دی.



## پورونه

کله چې د سوداګرۍ ځانی تمویل امکان موجود نه وي، پورونه یو عام بدیل شمیرل کیږي. سوداګریز پورونه تاسو سره د نغدو پیسو د جریان زیاتولو، د قیمتي تجهیزاتو پیرودلو، او ستاسو د سوداګرۍ وده کې مرسته کوي.

د دودیزو سوداګریزو پورونو یا سنتی تجارتی پورونو برعکس، د کوچني سوداګرۍ پورونه اکثرا د ټیټ سود نرخونو، د انعطاف وړ تادیاتو یا قسطونو بیرته ورکړې، او اسانه پور غوښتنلیکونو پروسه لري.

### کله چې د پور اخیستلو پریکړه وکړئ، لاندې کلیدي مسلې په پام کې ونیسئ

- د پور/قرضی نه استفاده کول
  - پور ورکوونکي د پور د استفادی په مورد کی روښانه نظر غواړي چې تاسو د پور د کارولو څه پلان لرئ. نو د دې په اړه روښانه ووسئ چې ولې تاسو پور ته اړتیا لرئ.

- د تادیاتو اندازه/قسط
  - آیا تاسو کولی شئ د پور میاشتنی قسطونه بیرته تادیه کړی؟
  - آیا تاسو کولی شئ یوازې د سود تادیات ورکړئ؟
  - آیا تاسو کولی شئ د اړتیا په صورت کې د پور تادیات وځنډوئ؟

- لګښتونه
  - ایا تاسو کولی شئ د سود لګښتونه له توانه ووځئ؟
  - ایا د پور د ژر (سر رسید نه مخکی) تصفیه کولو لپاره فیس شتون لري؟

- وخت
  - د پور لپاره غوښتنه کولو غوره وخت هغه وخت دی کله چې تاسو پیسو ته اړتیا نلرئ. د پور غوښتنلیک پروسه اوږده ده، نو مهمه ده چې تاسو خپل په اړتیاوې مخکې له مخکې پوه شئ او آماده ووسی.



| د پور غوښتنې مراحل | |
|---|---|
| **د پور ورکونکو سره وګورئ** | • لومړی، د محلي بانکونو یا کریډیټ یونینونو نه چې تاسو ورسره موجوده بانکی اړیکه لرئ پیل وکړئ. که چیرته بانک نه پور نه اخلی، هغه پورونه چی د ښار او ایالت لخوا تمویل کیږی او یا د ټولنیز پراختیای مالي موسسې ښه بدیل پور ورکوونکي دي. |
| **د پور مبلغ مشخص کړی** | • مشخص کړی چی د خپل لګښتونه لپاره په کوم اندازه پیسو ته ضرورت لری؟<br>• مشخص کړی چی دا لګښتونه د یو ځل لپاره دی او که په مکرر ډول تکراریږی. |
| **د پور وروکوونکی معیارات/شرایط په نظر کی ونیسی** | • پوه شئ چې غوښتنلیک سپارلو لپاره کوم اسنادو ته اړتیا لرئ. |
| **د پور هدف مشخص کړی (د پیسو نه څرنګه استفاده کوی)** | • د مثال په توګه:<br>◦ د نوو تجهیزاتو او تسهیلاتو خریداری<br>◦ یوه ودانۍ / پلورنځي پیرودل یا په کرایه اخیستل<br>◦ کارمندانو ته معاش ورکول |
| **د پور بیرته ورکولو قسطونه حساب کړی** | • مخکې له دې چې تاسو پور ته موافقه وکړئ، ډاډ ترلاسه کړئ چی میاشتنۍ قسطونه تادیه کولی شئ.<br>• دا معلومه کړئ چې تاسو به څنګه پور بیرته تادیه کوی. آیا تاسو د اوږدې مودې یا لنډ مهاله مهال ویش غواړئ.<br>• تایید کړئ چې تاسو کولی شئ د بیرته ورکړی مقدارونه تنظیم کړئ او یا داچی قسطونه به هر ځل ورته وي. |

## د کوچني سوداګرۍ پورغوښتنلیک عمومي چک لیست

کله چې تاسو د پور لپاره غوښتنه کولو ته آماده شوی، د خپل پور غوښتنلیک لپاره لاندی مالي او سوداګریز اسناد ته اړتیا لرئ.

### مالی اسناد

لاندی تجدید شوی او یا وروستي اسناد ته اړتیا لرئ

- شخصی او سوداګریز تکس ریترن
- مالی صورت حسابونه په شمول
  - د ګټې او زیان حساب پاڼه، بیلانس شیټ، او د نغدو پیسو جریان حساب
- شخصی صورت حسابونه په شمول
  - د سوشل سیکیورتی نمبر او یا مالیاتی تشخیصه نمبر، عاید، کریډټ یا اعتباری تاریخچه، معاملات، پرداختونه او د جاری حسابونو معلومات شامل دی.

### تجارتی اسناد

- تجارتی ساختار او قانونی اسناد
  - د سوداګرۍ تاسیس مفادات
  - د سوداګرۍ ثبت او جواز
  - اساسنامه او عملیاتی طرزالعملونه
  - د کرایی قرارداد کاپی – په هغه صورت کی چی تاسو د تجارت ځای او یا تجهیزات په کرایه اخیستل شوی وی.

- تجارتی پلان
  - تجارتی پلان آماده کول ستاسو لپاره یو فرصت دی تر سو پور ورکوونکو ته څرګند کړئ چې ستاسو تجارت د پانګوونې ارزښت لري. په تجارتی پلان کی باید ستاسو مالي اټکلونه، ماموریت، او ستراتیژي هم شامل وي.

**د پورغوښتنلیکونو لپاره اړین مالي او سوداګریز اسنادو په اړه د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ لاندی لینک ته مراجعه وکړئ:**
**https://www.sba.gov/funding-programs/loans/7a-loans**

## د نیویارک ایالت ټولنېز پراختیایی مالي بنسټونه

ټولنېز پراختیايي مالي موسسې مهاجرينو ته، ښځينه مالکيت سوداګريو ته، او ټيټ عايد لرونکو ټولنو ته د ټيټ سود پورونو، فرصتونو، او مالي خدماتو لکه د مستقيم پوهاوی او روزنېز پروګرامونو له لارې ملاتړ کوي.

ټولنېز پراختیايي مالي موسسې نه يوازې تمويل ته د لاسرسي لپاره عالي سرچينه ده بلکه ستاسو د کوچني سوداګرۍ پيل کولو، تمويل او وده کولو په اړه ارزښتناکه پوهاوی وړاند ی کوی. په نیویارک ایالت کی لاندی ټولنېز پراختیايي مالي موسسې کولی شي د سوداګرۍ په دی سفر کې ستاسو ملاتړ وکړي:

| | |
|---|---|
| **BOC Capital**<br>Boccapital.org | **Accompany Capital**<br>Accompanycapital.org |
| **Pursuit**<br>https://pursuitlending.com/ | **Renaissance Economic Development Corporation**<br>renaissance-ny.org |
| **تاسو کولای شی د نیویارک ایالت نور ټولنېز پراختیايي مالي موسساتو په لاندی لینک کی مشاهده کړی:**<br>https://www.nyscdfi.org/nyscdfis | **TruFund Financial Services**<br>https://www.trufund.org/ |